**مطبوعاتي اعلاميه**

**جمهوريت، ډيموکراسي او ډيموکراټيکې ټاکنې په افغانستان کې ناکامې شوې؛**
**دوام يې د ناکامو تجربو تکرار دی**

د افغانستان د ولسمشريزو ټاکنو پر سر له شپږو مياشتو جنجال او کشمکش وروسته بالاخره دوو مخکښو نوماندانو اشرف غني او عبدالله عبدالله په دوو بېلو مراسمو کې د ولسمشرانو په توګه لوړه وکړه. دوی خپله بريا "د جمهوريت او ډيموموکراسۍ بريا" وبلله.

په داسې حال کې چې موږ تل د افغانستان مسلمانو او مجاهدو خلکو ته د ډيموکراټيکو او امريکايي پروسو له بدو او ناوړه پايلو خبرداری ورکړی دی. لکه څنګه چې د ۲۰۱۹ د سپټمبر په ۲۸مه نېټه مو په يوه مطبوعاتي اعلاميه « ډيموکراتيکې ټاکنې؛ افغانستان ژور سياسي ناورين ته بيايي!» کې روښانه ويلي وو چې «د افغانستان د جمهوري رياست ټاکنې تر ايرو لاندې هغو سرو سکروټو ته ورته دي چې په خپل زړه کې ستر سياسي ناورين روزي او ژر ده چې خلک به دغه ناورين په زړه او ځان سره احساس کړي. لکه څنګه يې چې د ۲۰۰۹، ۲۰۱۴ او ۲۰۱۸ کلونو په ټاکنو کې تجربه کړ.»

اوس د يوې مخلصې او وېښوونکې ډلې د خير نصحيت په پام کې نيولو پرته، د افغانستان په تاريخ کې په لومړي ځل دوو کسانو د ولسمشر په توګه د لوړې مراسم ترسره کړل. دغو دوو رهبرانو په قرآن کريم قسم وخوړ؛ خو د قرآن کريم د تطبيق، ساتنې، عزت او حرمت پر ځای امريکا ته وفادار دي او د ډيموکراسۍ او غير اسلامي اساسي قانون د تطبيق لپاره هڅې کوي. لکه څنګه چې هر يوه خپل کاري لومړيتوب د امريکايي سولې پروسه تعريف کړه. له دې امله چې په افغانستان کې ريښتينې سياسي رهبري نشته، نو په نتيجه کې ټولې دا ډول پروسې او کارونه د امريکا په ګټه پای ته رسيږي.

په رامنځته شوي سياسي ناورين سره ډيموکراسي، جمهوريت، ډيموکراټيکې ټاکنې او نور تحميلي او باد راوړي غربي ارزښتونه د کمونيستي ارزښتونو په څېر ناکام او مسخره شول او عورت يې ټولو ته لوڅ او بربنډ شو. دا مفکورې د افغانستان د مسلمانو خلکو له عقايدو سره د ټکر له امله په هېڅ ډول په ټولنه کې رېښې او اساس نشي پيدا کولای؛ بلکې يوازې د چل، فريب او نظامي زور له لارې په ناقص او موقتي ډول تپل کېدای شي او پايله يې هم له لا زياتې سياسي تفرقې پرته بل څه نه ده.

په حقيقت کې دغو فريب خوړلو سياسيونو د امريکا په ملاتړ د افغانستان د مسلمانو او دردمنو خلکو سياسي برخليک له ځانونو سره ګرو کړی او وينه، انرژي او احساسات يې په نامشروع لاره ضايع کوي.

د افغانستان مسلمان خلک بايد پوه شي چې شر او بدبختي د امريکا او د هغوی د لاسپوڅو سياسونو د سياسي تصميمونو او اجنډاوو په پيروۍ کې نغښتې ده او د دنيا او آخرت خير او سلامتي يوازې د اسلامي نظام (دويم راشده خلافت) له لارې د اسلامي نظام، افکارو او رزښتونو په حاکمولو کې ده او بس.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**


**د حزب التحرير رسمي ويبپاڼه**
www.hizb-ut-tahrir.org
**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ويبپاڼه**
www.hizb-ut-tahrir.info

**د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ويبپاڼه**
www.hizb-afghanistan.org
**ايمېل پته**
info@hizb-afghanistan.org